قرآني بيان

# خپل ځان له د دوکې ورکولو نقصانونه

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ اسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

04-April-2025

د جُمعَةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 4 اپريل، کال 2025ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 5 شوال، کال 1446ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم د

# خپل ځان له د دوکې ورکولو نقصانونه

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- --- د منافقانو يو عيب
- --- د ظاهر او د باطن د تضاد نه ځان بچ ساتئ
- --- نورو له دوکه مهٔ ورکوئ!
- --- د بني اسرائيلو عبادت گزار او گنهگار

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بياناتِ دعوتِ اسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې په ما باندې په ټوله ورځ کښې يو زر [1000] کرته درودِ پاک ولوستلو، هغهٔ به تر هُغه وخته پورې نهٔ مرېږي تر څو چې په جنّت کښې خپل ځائے وه نهٔ وينې-[1]

پڑھتا رہوں کثرت سے درود ان پہ سدا میں | اور ذِکر کا بھی شوق پۓ غوث و رضا دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَ مَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ۘ﴿۸﴾

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَ مَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّاۤ اَنْفُسَهُمْ وَ مَا يَشْعُرُوْنَ ؕ﴿۹﴾

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږه د وړومبی سیپارې، د سورهٔ بقره د دوو آیتونو (آیت: 8 او 9) د اوریدو سعادت حاصل کړو، دلته (یعني د آیت: 8) نه د آیت نمبر: 20 پورې پهٔ ټولو دیارلسو آیتونو کښې د منافقانو ذِکر پهٔ تفصیل سره شوے دے-

---

[1]....التَّرْغِيب و التَّرْهِيب، صفحه: 565، حديث: 22-

# درې قِسمه خلق

پۀ سُورۀ بقره کښې پۀ دې ځائے کښې د درې قِسمه خلقو ذِکر وکړے شو (1): مُتَّقِيْن: يعنې هٰغه مخلص مسلمانان چا چې د زړۀ نه هم ايمان قبول کړو او پۀ ژبه باندې يې هم د دې اقرار وکړو، هم دا خلق پۀ هدايت باندې دي، هم دوئي کامياب دي، هم دا هٰغه خوش قِسمته دي کوم چې د قرآنِ کريم هدايت قبلوي، د دې نه فائده حاصلوي او پۀ خپله دُنيا او اخرت ښه کولو کښې کاميابيږي (2): پۀ دويم نمبر باندې هٰغه خلق دي کومو چې نۀ پۀ ژبه باندې ايمان قبول کړو، نۀ د هغوئي پۀ زړونو کښې د ايمان نُور داخل شو، دا غير مسلمه، ضديان، بے ايمانه دي، د دوئي پۀ زړونو باندې، پۀ غوږونو باندې مُهرونه لګيدلي دي، پۀ سترګو باندې يې پردې دي او پۀ اخرت کښې د دوئي د پاره لوئي عذاب دے (3): پۀ دريم نمبر باندې هٰغه خراب خلق دي کومو چې پۀ ژبه باندې کلمه خو ووئيله خو د هغوئي زړۀ ته ايمان داخل نۀ شو، هغوئي پۀ زړۀ کښې کفر پټ اوساتلو او پۀ دروغه يې کلمه ووئيله، دا منافقان دي، هم دوئي د ټولو نه بدتر غير مسلمه دي، د دوئي پۀ باره کښې الله کريم فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ (پاره:5، سورۀ نِسَآء، آيت:145) | ترجمۀ کنزُ العِرفان: بے شکه مُنَافِقان د دوزخ د ټولو نه لاندينۍ طبقه کښې دي۔ |

معلومه شوه چې منافقانو ته به د غير مسلمو نه هم سخت عذاب ورکولے شي۔[1]

اَلْاَمَان وَالْحَفِيْظ! الله پاک دې مونږه د دوزخ د وور نه بچ کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اِلٰہی! جہنّم سے آزاد کر دے | میں فِردوس میں داخلہ مانگتا ہوں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ... تفسير خزائن العرفان، پاره:5، سورۀ نِسَآء، زيرِ آيت:145۔

## د منافقانو یو عیب

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** منافقان ډېر سخت، بدتر او د ټولو نه زيات نقصان رسوونکي دي، ځکه الله کريم په دې ځائے کښې د دوئي تفصيلي ذِکر وفرمائيلو، د دوئي علامتونه، د دوئي خراب کردار او عيبونه يې په وضاحت سره بيان کړل چې مسلمانان دوئي وپيژني او د دوئي د شَر نه محفوظ پاتې شي- [1] نو الله کريم فرمائي:

وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** او بعضې خلق وائي-

دلته منافقانو ته " بعضې خلق" ووئيلے شول، مطلب دا دے چې منافقان هېڅ د دې لائق هم نهٔ دي چې د هغوئي ذِکر په څهٔ صفت يا خوبئ سره وکړے شي، [2] بس دوئي څهٔ بد بخته خلق دي کوم چې وائي- څهٔ وائي؟

اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** چې مونږه ايمان راوړے دے په الله او په ورځ د اخرت باندې-

دا د اِسلامي عقيدو دوه طرفونه دي: [3] د ټولو نه وړومبئ عقيده الله پاک يو منل او د ټولو نه اخرئ عقيده د قيامت په ورځ باندې يقين ساتل- په نبيانو باندې ايمان، په فرښتو باندې ايمان، د الله پاک په کتابونو او په نورو ټولو ضروري اِسلامي عقيدو باندې ايمان هُم په دې دوو کښې راغلل، يعنې منافقانو ووئيل: مونږه په الله باندې ايمان راوړو، د هغهٔ په رسولانو باندې، په کتابونو باندې، غرض دا چې په ټولو اِسلامي عقيدو باندې مو ايمان راوړو- خو الله کريم فرمائي:

وَ مَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ۘ﴿۸﴾ | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** حالانکې هغوئي ايمان والا نهٔ دي-

يعنې دا منافقان وائي چې مونږه ايمان راوړو، مونږه پاخه مسلمانان يو خو د دوئي دا اقرار، د

---

[1] ... تفسير نعيمى، پاره:1، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:8، جلد:1، صفحه:160 ملخصاً-
[2] ... تفسير صراط الجنان، پاره:1، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:8، جلد:1، صفحه:73 ملخصاً-
[3] ... تفسير نعيمى، پاره:1، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:8، جلد:1، صفحه:161-

دوئي دا ايمان صرف او صرف د ژبې تر حده پورې دے، دا بد بخته د زړهٔ نهٔ کلمه نهٔ وائي۔

دلته پهٔ ذهن کښې دا سوال راځي چې که هغوئي ايمان قبول کړے هم نهٔ دے، د زړهٔ نه يې کلمه هم نهٔ ده وئيلې نو پهٔ ژبه باندې خو يې وئيلې ده؟ الله پاک فرمائي:

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا خلق الله لره او ايمان والؤ لره دوکه ورکول غواړي۔

يعنې دوئي پهٔ ژبه باندې د ايمان اظهار کوي د پاره د دې چې دوئي مسلمانان وګڼلے شي، پهٔ دوئي باندې هٔغه کرم وي کوم چې پهٔ مسلمانانو باندې وي، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دوئي باندې شفقت وکړي، لکه څنګه چې پهٔ مسلمانانو باندې کوي، مسلمانان دوئي خپل ورونړه وګڼي، د دوئي د ځان او د دوئي د مال هم هٔغه شان حفاظت کيږي لکه څنګه چې د مسلمانانو کيږي، دوئي ته هٔغه ټولې فائدې حاصلې شي کومې چې پهٔ يو اِسلامي سلطنت کښې يو مسلمان ته حاصليږي او ورسره ورسره دوئي پهٔ زړونو کښې کُفر هم پټ ساتلے دے، غرض دا چې دوئي الله پاک له او ايمان والؤ له د دوکې ورکولو پهٔ کوشش کښې دي۔ خو حال دا دے چې

وَ مَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّاۤ اَنْفُسَهُمْ وَ مَا يَشْعُرُوْنَ ؕ ﴿۹﴾

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هغوئي دوکه نهٔ ورکوي مګر خپلو ځانونو لره. او هغوئي شعور نهٔ لري۔

الله پاک له، د هغهٔ خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له څنګه دوکه ورکړے کيدے شي--؟ دوکه خو هغوئي له ورکړے کيدے شي د چا نه چې څهٔ پټ وي خو ❁ الله پاک عَلّامُ الغُيُوب (يعنې د غيبو نه خبر) دے، هغهٔ د ټولو پټو خبرو نه خبر دے ❁ د زړونو د حال نه هم ښه خبر دے ❁ پهٔ کائنات کښې داسې يوه ذره هم نشته کومه چې د رَبِّ قَدِير نه پټيدے شي، ځکه الله پاک له هيڅکله هم دوکه هډو ورکړے کيدے نشي ❁ هم داسې د الله پاک محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک خليفهٔ اعظم دے ❁ رَبِّ قَدِير خپل حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ته د مَاكَانَ وَمَايَكُوْنُ (یعنې څهٔ چې شوي دي او څهٔ چې به کیږي) د ټولو عِلم عطا کړے دے ❁ نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو هم د ابتداء نه د هر یو د حقیقت او د هر یو د انجام نه خبر دے ❁ هغوئي د معراج پهٔ شپه باندې ټول غیر مسلمه او ټول ایمان والا لیدلي دي ❁ هغوئي صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته هم د جنتیانو او د دوزخیانو د نومونو رجسټرې وښودلې ❁ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لوئي نه د لوئي غیر مسلمه د ایمان راوړلو خبر ورکړو نو هغهٔ اخر د دُنیا نه مسلمان لاړو ❁ د چا پهٔ باره کښې چې یې پهٔ کُفر باندې د مړ کیدو خبر ورکړو نو هغهٔ غیر مسلمه شو او هلاک شو- داسې کمال لرونکے رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم چې د ټولو د حقیقت او د ټولو د انجام نه خبر وي، نو هغهٔ له څنګه دوکه ورکړے کیدے شي؟ (1)

ځکه رښتیا هم دا دي چې دا منافقان خلق پهٔ هوا کښې د محلونو جوړولو پهٔ فِکر کښې دي یعنې پهٔ ناممکنه خبرو پسې روان دي، دوئي غواړي چې پهٔ ژبه باندې کلمه ووائي، پهٔ ظاهر کښې د خپل ایمان اظهار وکړي او پهٔ زړهٔ کښې کُفر پټ وساتي او ایمان والؤ له دوکه ورکړي خو حقیقت دا دے چې **دا بد بخته خپل ځان له پهٔ دوکه ورکولو کښې اخته دي، هُم خپل ځان له دوکه ورکوي** خو پهٔ دوئي کښې شعور هم نشته-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آیتونو مبارکو نه میلاؤیدونکي سبقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا دوه آیتونه د کومو چې مونږه د اوریدلو سعادت حاصل کړو، د دې نه مونږ ته د زدکړې د پاره ډیر سبقونه میلاؤیږي- دوه ډیر اهم سبقونه کوم چې مونږ ته د دې ځائے نه میلاؤ شول:

### (1): د ظاهر او د باطِن د تضاد نه بچ اوسئ...!!

پهٔ دې کښې وړومبے سبق خو دا دے چې د ظاهر او د باطن تضاد ډیر لوئي عیب دے، د

[1]... تفسیر نعیمی، پاره:1، سورهٔ بقره، زیرِ آیت:9، جلد:1، صفحه:164 و 165 ملخصاً-

منافقانو اصلي جُرم څهٔ وو؟ هم دا وو چې د هغوئي باطِن د هغوئي د ظاهر نه خلاف وو، دوئي پهٔ زړهٔ کښې کُفر پټ کړے وو او پهٔ ژبه باندې يې کلمه وئيله- ځکه مونږ ته د منافقانو د دې عيب نه هر وخت بچ کيدل پکار دي-

د ظاهر او د باطِن تضاد که د ايمانياتو پهٔ معامله کښې وي يعنې بنده پهٔ زړهٔ کښې کفر پټ کړي او پهٔ ژبه باندې کلمه ووائي، دا خو **نِفاقِ اِعتقادي** دے او بدترين کُفر دے- د دې نه علاوه که دا تضاد د ايمانياتو پهٔ معامله کښې نهٔ وي بلکې د اعمالو او کردار پهٔ معامله کښې وي، دا اګر که کُفر نهٔ دے، البته دا هم ډير لوئي عيب دے- اللّٰه پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ۝۳ (پارہ:28،سورۂصَفّ،آیت:3)

ترجمهٔ كنزُ العِرفان: د اللّٰه پهٔ نزد دا ډيره ناخوښه خبره ده چې تاسو هغه وايئ څهٔ چې نهٔ کوئ-

دروغ وئيل، پهٔ امانت کښې خيانت کول، وعده ماتول دا ټول هُم د ظاهر او د باطِن د اختلاف صورتونه دي او پهٔ حديثونو کښې هم دا د منافقانو نخښې ګرځولے شوي دي- نو

## د منافق څلور نخښې دي

د مدينے سرکار، د زړونو قرار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څلور خبرې داسې دي چې دا پهٔ چا کښې بيامونده شي هغهٔ خالص منافق دے اګر که نمونځ کوي، روژې نيسي او ځان مسلمان ګڼي او پهٔ چا کښې چې پهٔ دې کښې يو خصلت بيامونده شي نو پهٔ هغهٔ کښې د نفاق يوه شعبه موجوده ده تر دې پورې چې دا پريږدي: (1): اِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ چې امانت ورکړے شي نو خيانت پکښې کوي (2): وَاِذَا حَدَّثَ كَذَبَ چې کله خبره کوي نو دروغ وائي (3): وَاِذَا عَاهَدَ غَدَرَ چې وعده وکړي نو نهٔ يې پوره کوي او (4): وَاِذَا خَاصَمَ فَجَرَ چې جګړه کوي نو کنځل کوي-[1]

دغه شان د منافِق نورې هم ډيرې نخښې دي او پهٔ چا کښې چې دا بدۍ وي، هغهٔ اګر که

[1]... بخاری، کتاب الایمان، باب علامة المنافق، صفحه:79، حدیث:34۔

مسلمان هم دے خو د هغهٔ کردار، د هغهٔ اعمال د منافقانو پهٔ شان دي- ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه د داسې بدو نه هر وخت ځان وساتو، خپل ظاهر او باطِن يو شان ساتو- اللّٰه پاک دې مونږه د نِفَاقِ اعتقادي او د نفاقِ عملي د دوارو نه محفوظ کړي-

| | |
|---|---|
| ہوں بظاہِر بڑا نیک صُورت | کر بھی دے مجھ کو اب نیک سیرت |
| ظاہِر اچھا ہے ، باطِن بُرا ہے | یاخُدا تجھ سے میری دُعا ہے |
| عیب دُنیا میں تُو نے چھپائے | حشر میں بھی نہ اب آنچ آئے |
| آہ ! نامہ مرا کھل رہا ہے | یاخُدا تجھ سے میری دُعا ہے |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (2): خپل ځان له د دوکي ورکولو نه بچ اوسئ...!!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دويم اهم سبق کوم چې مونږ ته د دې آيتونو نه د زدکړې د پاره ميلاؤ شو، هغهٔ دا چې خپل ځان له د دوکي ورکولو نه هميشه بچ کيدل پکار دي، وګورئ چې د منافقونو خراب صفت څهٔ بيان شو؟ اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَ مَا يَشْعُرُوْنَ ؕ ﴿۹﴾ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هغوئې دوکه نهٔ ورکوي مګر خپلو ځانونو لره. او هغوئې شعور نهٔ لري- |

معلومه شوه چې د منافقانو بيوقوفي، د هغوئې کم عقلي ده چې هغوئې پهٔ خوبنه يا نا خوبنه، خپل ځان له دوکه ورکوي- مونږ له پکار دي چې د داسې بيوقوفۍ نه هميشه بچ اوسو-

## خپل ځان له د دوکي ورکولو نقصانونه

خپل ځان له دوکه ورکول هم ډير خراب عمل دے- تاسو اندازه ولګوئ چې ❁ پهٔ لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ وئيلو سره انسان مسلمانيږي خو منافق هم دغه کلمه وائي او غير مسلمه هم غير مسلمه پاتې کيږي ❁ پهٔ لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ وئيلو بنده د جنَّت حقدار جوړيږي منافقان پهٔ

دغه کلمه وئيلو هم د دوزخ د ټولو نه د لاندې طبقې حقداران جوړ شول ❁ کوم بنده چې پۀ رښتوني زړۀ کلمه ووائي، د هغۀ مخکښيني ګناهونه ورانيږي خو د منافقانو ګناهونه زيات شول۔

صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان به پۀ مسجدِ نبوي شريف کښې نـمونځونه کول، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوراني مخ زيارت به يـې کولو، د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک کلام به يـې اوريدلو، بالکل هم دغه کار به منافقانو هم کولو، دوئي به هم پۀ مسجدِ نبوي شريف کښې نـمونځونه کول، دوئي به هم بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضريدل، دوئي به هم د وَالضُّحٰى رخسار زيارت کولو خو فرق ته وګورئ چې څومره زيات دے، ❁ د دغه وَالضُّحٰى رُخسار د ليدلو پۀ برکت صحابه کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان جنتيان شول خو منافقان (د خپل نفاق پۀ وجه) د دوزخ حقداران شول ❁ د دغه نوراني مخ د ليدلو پۀ برکت صحابۀ کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان تر قيامته پورې د راتلونکو لوئي لوئي اوليائے کرامو، علمائے کرامو، صالحانو، غرض دا چې د ټولو مسلمانانو سرداران جوړ شول او منافقان ـــ!! د لعنت حقداران جوړ شول ❁ د دغه نوراني مخ زيارت د صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان نصيب شو نو تر قيامته پورې د هغوئي عزت، د هغوئي احترام د خلقو پۀ زړونو کښې واچولے شو، تر ننه پورې پۀ کتابونو کښې د هغوئي ذِکر کيږي، پۀ منبرونو باندې د هغوئي نومونه اخستلے کيږي، پۀ خطبه کښې د هغوئي د پاره دعاګانې کيږي، د صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان پۀ نومونو باندې محفلونه راجوړيږي، د هغوئي د نومونو نعرې وهلے کيږي، د صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان نوم چې واوريدلے شي نو سرونه د ادب نه ښکته کيږي خو منافقان ـــ!! څومره بد بخته وو، هغوئي هم د دغه نوراني رخسار زيارت وکړو، هم دغه کلمه يـې ووئيله، پۀ مسجدِ نبوي شريف کښې يـې نـمونځونه هم وکړل خو نن د هغوئي نومونه هم څوک نۀ پيژني، څوک يـې چې پيژني نو هغوئي پرې هم لعنت وائي، نفرت ترينه کوي، د هغوئي ادب څوک هم نۀ کوي۔

اخر دا منافقان د دومره غټ نقصان حقداران ولې جوړ شول؟ خپل ځان له د دوکې ورکولو پۀ وجه۔ دې بد بختو اللّٰه پاک له، د هغۀ خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له او ايمان والؤ له دوکه ورکول

غوښتل خو دوئي دوکه چا له ورکړه؟

وَ مَا یَخۡدَعُوۡنَ اِلَّاۤ اَنۡفُسَهُمۡ وَ مَا یَشۡعُرُوۡنَ ؕ ﴿۹﴾

دوئي هم خپل ځان له دوکه ورکړه خو دوئي پرې هډو پوهه نشو- ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه د خپل ځان د دوکه کولو نه هر وخت بچ وساتو- مثلاً

## نورو له دوکه مۀ ورکوئ!

نورو له دوکه ورکول يو خو خپل ځان له دوکه ورکول دي ❁ څوک چې پۀ ناپ تول کښې کمے کوي ❁ د څيز عيب پټوي او خرڅوي يې ❁ خراب مال ته ښه وائي او خرڅوي يې ❁ د نوټونو پۀ ګډه کښې نقلي نوټونه پټوي او ړدي يې، دوئي دا ګڼي چې مونږه مخامخ ګس دوکه کړو، د هغۀ سره مو تګي وکړه خو پۀ حقيقت کښې دوئي دوکه خپل ځان له ورکوي-

د يوې واقعې پۀ ذريعه پۀ دې باندې د ځان پوهه کولو کوشش وکړئ! يو ګس وو، هغۀ به د خاورې خوړلو عادت لرلو، يو ځل هغۀ دُکان ته د وريژو اخستو د پاره لاړو، پخوانے دور وو، د نن سبا پۀ شان اليکټرانک سکيل خو نۀ وو، دکاندار د پخواني دور ساده شان تَله او (د وزن کولو د پاره) د خاورې لوټې کيښودې وې، ګاهګ ترينه سودا وغوښتله، مثلاً اوئې وئيل: يو کلو وريژې راکړه- دکاندار لوټې پۀ تله کښې کيښودلې او پخپله دننه د وريژو اچولو د پاره لاړو، د دې سودا اخستونکي د خاورو خوړلو عادت وو، دکاندار چې کله دننه لاړو نو دۀ پۀ پټه د لوټو نه خاوره خوړل شروع کړل، دکاندار هوښيار وو، هغۀ چې ورته وکتل چې دا د وزن د لوټو نه خاوره خوري نو هغۀ پۀ وريژو اچولو کښې قصداً ناوخته کړو، پۀ دومره وخت کښې دۀ د وزن د لوټو نه خاوره خوړله، خير! لږ وخت پس دکاندار هم د هغه لوټو سره وريژې تول کړې او ګاهک له يې ورکړې، دۀ واخستې او کور ته لاړو، کور ته چې لاړو او اوئې تللې نو وريژې لږې کمې وې، ډير غصه شو، پۀ ګوريدو ګوريدو د دکاندار خوا له واپس لاړو او پۀ غصه کښې يې پۀ تيزه ووئيل: تۀ دوکه کوې، تا سودا پوره نۀ ده راکړې، ما يو کلو وريژې غوښتلې وې، دا خو کمې دي—!!

دکاندار چې د هغهٔ خبره واوريدله نو اوئې وئيل: زما دا د وزن لوتې پوره کلو وې، د دې نه خاوره هم تا خوړلې ده، ځومره چې تا خاوره خوړلې ده نو هغه همره وزن کم شو- ځکه قصور پهٔ اصل کښې زما نهٔ بلکې ستا دے-

دا د پوهه کولو د پاره يوه واقعه ده، واقعي ده چې خبره رښتيا ده، ځوک چې نورو له دوکه ورکوي، هغوئي دا ګڼي چې زهٔ ډير عقلمند يم، د ډيرو خلقو نه بيوقوفه جوړووم خو پهٔ حقيقت کښې هم دا بيوقوفه دے چې خپل ځان له پهٔ دوکه ورکولو کښې اخته دے، د نورو نهٔ بلکې هم د خپل ځان پهٔ دوکه کولو کښې مصروف دے-

## پهٔ اخستو او خرڅولو کښې خپل ځان له د دوکې ورکولو نقصانونه

وګورئ که چرې انسان پهٔ ناپ تول کښې کمے نهٔ کوي، پهٔ اخستو او خرڅولو کښې رښتيا وائي، دوکه نهٔ کوي نو د هغهٔ که دغه کاروبار پهٔ ښه نيت سره وي نو د حلالې ګټې پهٔ وجه به بهترين عبادت شميرلے کيږي خو د هغهٔ پهٔ کارونو کښې چې کله دوکه شامله شي نو اُلټا ترينه ګناه جوړه شي- د دوکې کولو پهٔ وجه اګر که پهٔ ظاهره مال پهٔ نظر راځي خو وګورئ چې څهٔ څهٔ پرې د لاسونو نه ځي ❁ د دوکې کولو پهٔ وجه برکت لاړو ❁ د دوکې کولو پهٔ وجه عافيت رخصت شو ❁ د دوکې کولو پهٔ وجه مال راغلو خو د دې سره سره بيماري هم راتلے شي، قرض هم راتلے شي، افتونه هم راتلے شي او ❁ د ټولو نه غټ نقصان دا چې که دغه سودا پهٔ امانت دارۍ سره کيږي نو دغه سودا سوداګر د جنَّت حقدار جوړوي خو چې کله پهٔ دې کښې دوکه راغله، خيانت راغلو نو بيا به دغه سودا دا د دوزخ حقدار جوړ کړي-

## د يوې دانې پهٔ بدل جنَّت خرڅوونکے

**د يو بزرګ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عادت وو چې کله به يې هم څهٔ څيز اخستو نو نيمه دانه به يې کم اخستو او چې کله به يې څهٔ څيز خرڅولو نو يوه دانه به يې زيات ورکولو او فرمائيل به يې چې: خرابي ده د هغه چا د پاره کوم چې د يوې دانې پهٔ بدل کښې داسې جنَّت خرڅوي د**

**کوم پلن والے چې د زمکې او د اسمان نه زيات دے، خومره پۀ نقصان کښې دے هٰغه ګس کوم چې د وَيل (يعنې دوزخ) پۀ ځائے طُوبىٰ (يعنې جنَّت) خرڅوي-** [1]

دا ده خپل ځان له دوکه ورکول--!! اندازه ولګوئ چې هٰغه عظيم الشان محلونه د کومو د قيمت د پاره چې د دُنيا ټول دولت هم څۀ نۀ دے، نورو له دوکه ورکوونکے د يو څو پيسو پۀ بدل د جنَّت هٰغه محلونه خرڅوي، چې دا خپل ځان له دوکه ورکول نۀ دي نو نور څۀ دي--؟؟ ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه د خپل ځان دوکه کولو نه بچ شو، هميشه امانت داري کوو، چا له هم دوکه نۀ ورکوو-

مرے دِل سے دُنیا کی چاہت مٹا کر | کر اُلفت میں اپنی فنا یااِلٰہی !
تُو اپنی وِلایت کی خیرات دیدے | مرے غوث کا واسِطہ یااِلٰہی !
بنا دے مجھے نیک نیکوں کا صَدْقہ | گُناہوں سے ہر دَم بچا یااِلٰہی !

## د رحمت پۀ اُمِّيد باندې ګناه مۀ کوئ!

دغه شان " **د رحمت پۀ اُميد باندې ګناه کول**" دا هم خپل ځان له دوکه ورکول دي- د الله پاک د رحمت اُميد ساتل ډيره د فضيلت خبره ده، دا زمونږه د ايمان حصه ده، د رحمان د رحمت اُميد ساتل د نبيانو، د اوليائے کرامو طريقه ده خو د الله پاک د رحمت اُميد ساتل او د ګناهونو ښکار کيدل دا خپل ځان له دوکه ورکول دي، د خپل ځان سره دوکه ده-

## بيوقوفه څوک دے---؟

د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَلْعَاجِزُ مَنْ اَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنّٰى عَلَى الله يعنې بيوقوف هٰغه ګس دے څوک چې د نفس د خواهشاتو د تابعدارۍ کولو باوجود د الله پاک نه طمع لري- [2]

---

[1]... احياء العلوم، كتاب: آداب الكسب، باب الثالث: في بيان العدل، جلد: 2، صفحه: 99-

[2]... ترمذی، ابواب صفة القيامة...الخ، صفحه: 583، حديث: 2459-

معلومه شوه چې هغه بنده کوم چې کبیره ګناه کوي، فرائض پریږدي، واجب پریږدي، بیا د خپلو ګناهونو نه توبه هم نهٔ کوي او د دې سره سره د جنَّت اُمید هم ساتي نو داسې ګس بیوقوفه دے۔

چې اللّٰه پاک، د هغهٔ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واضحه وئیلي دي چې ❁ نمونځ نهٔ کوونکے د دوزخ حقدار دے ❁ فرض روژې قضا کوونکے ❁ د فرض کیدو باوجود زکوٰة نهٔ ورکوونکے ❁ د مور پلار نافرمانه ❁ ګاؤنډیانو له تکلیف ورکوونکے ❁ مسلمانانو وروڼو ته بر ناحقه نقصان رسولو والا د دوزخ حقدار دے نو بیا دا کار کوونکے ځان د جنَّت حقدار څنګه ګڼلے شي؟ تاسو پخپله غور وکړئ چې یو ګس دے، هغهٔ د اللّٰه پاک پهٔ محبت کښې نرمه نرمه بستره پریږدي، د خپل خوب قرباني ورکوي، سحر وختي پاځي او د نمونځ کولو د پاره جومات ته ځي او بل ګس دے چې پهٔ خوارهٔ خوب اوده دے، نمونځونه قضا کوي، آیا دا دواړه یو شان کیدے شي؟ هیڅکله هم نشي کیدے، اللّٰه پاک فرمائي:

اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِیْنَ كَالْمُجْرِمِیْنَؕ(۳۵) مَا لَكُمْٙ كَیْفَ تَحْكُمُوْنَۚ(۳۶)

(پاره:29، سورۂ قلم، آیت:36،35)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو آیا مونږه مسلمانان د مجرمانو پهٔ شان کړُو پهٔ تاسو څهٔ وشو؟ څنګه حُکم لګوئ؟

دا څنګه کیدے شي؟ نیک او ګنهګار، نمونځ ګزاره او بے نمانځه، روژه دار او روژې قضا کوونکے، سَخي او کنجوس، د مور پلار فرمانبردار او نافرمان یو شان څنګه کیدے شي؟ نشي کیدے، ځکه چې څوک هم ګناه کوي، د توبې طرف ته هم نهٔ مائله کیږي، بیا د اللّٰه پاک نه د جنَّت اُمید هم ساتي، داسې ګس پهٔ خطا باندې دے، کشتۍ پهٔ اوبو باندې د پاڅه ګرځي، پهٔ وچه باندې نه ګرځي، دغه شان ګناه د جنَّت طرف ته بوتلل نهٔ کوي بلکې ګناه هم همیشه د دوزخ حقدار جوړل کوي- لهذا کوم ګس د اللّٰه پاک د رحمت پهٔ طمع پهٔ ګناهونو کښې اخته وي، هغهٔ د خپل ځان پهٔ دوکه کولو کښې اخته دے، خپل ځان له دوکه ورکوي-

مونږ له پکار دي چې مونږه پهٔ هوش کښې راشو، خپل ځان پهٔ دوکه کښې نهٔ اخته کوو،

توبه وکړو، ګناهونه پرېږدو، نیک اعمال وکړو، بیا د الله پاک د رحمت نه طمع وساتو- الله پاک دې مونږ ته د پټ تدبیر نه د ویریدو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

آج بنتا ہوں معزز جو کھُلے حشر میں عیب
آہ ! رُسوائی کی آفت میں پھنسوں گا یارَبّ !
گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہو گی
ہائے میں نارِ جہنّم میں جلوں گا یارَبّ !
عَفْو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا
گر کرم کر دے تو جنّت میں رہوں گا یارَبّ !

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب ! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د تکبر نه بچ اوسئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دغه شان تکبر هم خپل ځان له دوکه ورکول دي، تکبر کوونکے خپل ځان اعلیٰ او افضل او نور سپک ګڼي خو حقیقت د دې نه اُلټا وي، داسې هغهٔ هُم پهٔ خپلو سترګو کښې پخپله خاورې اچوي- وګورئ چې شیطان تکبر وکړو، هغهٔ خپل ځان بهتر او حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام مَعَاذَ الله! کم وګڼو خو حقیقت څهٔ وو؟ حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام اَشرَفُ المَخلوقات دے او شیطان ذلیله--!! خو شیطان خپل ځان دوکه کړو یعنې پهٔ تکبر کښې اخته شو او خپل ځان یې د همیشه همیشه د پاره ذلیله او رسوا کړو- ځکه انسان له پکار دي چې همیشه د عاجزۍ نمونه جوړه شي، پهٔ تکبر کښې نهٔ اخته کیږي او پهٔ خپلو سترګو کښې پهٔ خپل لاس خاورې نهٔ اچوي-

لږ غور وکړئ چې زمونږه حیثیت څهٔ دے؟ مونږه د خاورې نه جوړ انسانان یو، مونږه د یو څاڅکي نه جوړ شوي یو، خلق لوئي لوئي خبرې کوي خو مونږه ډیر کمزوري یو، د یوې ساه خبره ده، څنګه چې ساه ودریږي، خوک بادشاه دے که وزیر، مالداره دے که فقیر، پهلوان دے که عاجز، ټول خاورې شي- چا شاعر وئیلي دي:

اِک یہ جہاں، اِک وہ جہاں
دونوں جہاں کے درمیاں
ہے فاصلہ اِک سانس کا

جو آگئی تو یہ جہاں
گر رُک گئی تو وہ جہاں

دا زمونږه حقيقت دے، دا زمونږه حيثيت دے- مونږ ته هميشه د تکبر نه ځان بچ ساتل پکار دي-

## د بني اسرائيلو عبادت ګزار او ګنهګار

منقول دي چې په بني اسرائيلو کښې يو ډير ګنهګار ګس وو، يو ځل هغۀ د يو ډير لوئي عبادت ګزار په خوا تيريدلو، د هغه عبادت ګزار په سر باندې وريځې سورے کړے وو، هغه ګنهګار ګس په خپل زړۀ کښې سوچ وکړو چې زۀ د بني اسرائيلو ډير ګنهګار او دا ډير لوئي عبادت ګزار دے، که زۀ د دوئي په خوا کښې کښينم نو اُميد دے چې الله پاک په ما باندې هم رحم وکړي- په دې سوچ باندې هغۀ د هغه عابد په خوا کښې کښيناستو- عابد د هغۀ کښيناستل ډير بد وګڼل، هغۀ په زړۀ کښې ووئيل: چرته زما په شان عبادت ګزار او چرته دا دومره ډير ګنهګار! دا زما سره څنګه کښيناستے شي!

نو هغۀ ډير په سپک نظر هغه ګس مخاطب کړو او اوئې وئيل: د دې ځائے نه لاړ شۀ! په دې باندې الله پاک د هغه زمانې نبي عَلَيۡهِ السَّلَام ته وحي وفرمائيله چې دې دواړو ته ووايۀ چې دوئي دې خپل عملونه د سَر نه شروع کړي، ما دا ګنهګار (د دۀ د ښه ګمان په وجه) وبخښلو او د عبادت کوونکي عمل مې (د دۀ د تکبر په وجه) ضائع کړل-[1]

الله! الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اندازه ولګوئ چې دا څومره غټ نقصان دے، د تکبر په وجه د عبادت ګزار عبادت ضائع شو او د عاجزۍ په برکت ګنهګار ته د بخښنې زيرے ميلاؤ شو-

دا ده خپل ځان له دوکه ورکول--!! مونږ ته معلومه نۀ ده چې د الله پاک په بارګاه کښې څوک مقبول دے، څوک بخښلے شوے دے او څوک د دوزخ حقدار دے، ځکه مونږ له پکار دي

[1] ...احياء العلوم، كتاب ذَمِّ الكبر و العجب، جلد:3، صفحه:328۔

چې د الله پاک د پټ تدبير نه ويريږو او هم د عاجزۍ نمونه جوړه شو-

## د بيان خُلاصه

مونږه د قرآنِ کريم په رڼا کښې د منافقانو دوه عيبونه واوريدل (1): د مُنَافقانو ظاهر څۀ يو او باطِن څۀ بَل وي، ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه خپل ظاهر او باطِن يو شان وساتو (2): مُنَافقان د خپل ځان په دوکه کولو کښې اخته وي، ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه د خپل ځان د دوکه کولو نه بچ اوسو، نورو له دوکه ورکول، په نورو باندې ظلم کول، د الله پاک په رحمت باندې د اُميد په بنياد په ګناهونو کښې اخته کيدل، تکبر وغيره دا ټول د خپل ځان د دوکه کولو صورتونه دي، د دې نه هم مونږ له ځان ساتل پکار دي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د کلمه اينډ دُعا (Kalma & Dua) ايپ تعارف

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن په نوم د **کلمه او دُعا** (***Kalma & Dua***) جاري کړے دے- د دې ايپلي کيشن په ذريعه ډير په اسان انداز کښې د ماشومانو تربيت کيدے شي ✿ په دې ايپلي کيشن کښې د ماشومانو د پاره 6 کلمې د آډيو په شکل کښې د حرفونو د ادا کولو او د ترجمې سره ✿ د روزانه 16 مختلفې دُعاګانې مثلاً د اوبو څښلو دُعا ✿ د ډوډۍ خوړلو نه مخکښې او وروستو دُعا ✿ د پئيو څښلو دُعا ✿ د اوده کيدو دُعا وغيره د حروفو د ادائيګۍ او ترجمې سره او په مختلفو موضوعاتو باندې سُنت او آداب وغيره شامل دي- په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او فائده ترينه واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

راځئ چې د بيان په اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

**مسئله:** د جومات پۀ فرش باندې د اودس د اوبو څاڅکې څڅول ګناه ده۔

**وضاحت:** دلته دا غلطي ډېره عامه ده۔ عام طور خلقو ته مسئله معلومه نۀ وي، د اوداسه پۀ ځائے کښې اودس وکړي او د اودس د اندامونو د وچولو نه بغیر هم داسې یې څَنډي او جومات ته راځي، نتیجه یې څۀ وي؟ د جومات پۀ فرش باندې، پۀ دَرو باندې د اودس د اوبو څاڅکي څڅیږي، دَرې ګنده کیږي، پۀ دې کښې جراثیم پیدا کیږي او هُم مونږ ته نقصان رارسوي۔ د دې سره سره دا د جومات بے ادبي هم ده۔ جومات د الله پاک کور دے، د دۀ ادب کول ډیر ضروري دي۔

ځکه خو ✿ حق خو دا جوړیږي چې مونږه پۀ کور کښې اودس وکړو او راشو ✿ که چرې جومات ته راځو او اودس کوو نو بیا هم د اودس پۀ ځایونو کښې د اودس اندامونه وچ کړئ چې د جومات پۀ فرش باندې د اودس د اوبو څاڅکي نۀ څاڅي ✿ هم داسې ښپې هم د اودس پۀ ځائے کښې وچې کړئ ✿ دغه شان د ګیرې خیال ساتل هم ډیر ضروري دي، که ګیره پۀ کپړه وغیره باندې وچه کړے شي نو بیا هم یو څو څاڅکي پۀ ویښتو کښې انښتي وي، ځکه بهتره دا ده چې د اودس نه پس هم د اودس پۀ ځائے کښې ګیره ګمنځ کړے شي، د دې پۀ برکت تنګدستي هم ختمیږي او پۀ جومات کښې د اودس د اوبو د څڅیدو نه هم حفاظت کیږي

✿ د شورئ د مرحوم رُکن حاجي زم زم عطّاري رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه عادت مبارک وو چې پۀ سجده کښې به یې د سجدې پۀ ځائے باندې چې چرته ګیره وي، پۀ هُغه ځائے کښې به یې کپړه کینښودله د پاره د دې چې د ګیرې نه د اودس باقي پاتې د اوبو څاڅکي که وڅڅي نو هم د جومات پۀ فرش باندې نۀ بلکې پۀ خپله کپړه باندې پریوځي۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

## یاقَهَّارُ

چې څۀ مصیبت راشي نو 100 کرته د اللّٰه پاک دا خوږ نوم یاقَهَّارُ ولولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! سخته به اسانه شي۔

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم